# نیمګړې مینه

د محصل ژوند

دردونکې ناول



Ketabton.com

لیکوال روح الله روحاني

ketabton.com - The Digital Library

# نیمګړې مینه

د محصل ژوند

## ناول

ketabton.com - The Digital Library

ډالۍ :

هغه چاته چې ماته يې مينه را کړې ده .

ketabton.com - The Digital Library



ددرس په شروع کیدوسره پردویمه ورځ چې ټولګي ته لاړم،
دهلکانو او انجونو شورما شورو،
په ټولګي کې یو ترتیب منځ ته راغلی و،
هلکان مخکې او انجونې وروسته ناستې وې٠
په انخونو کې دځینو مخونه نیم پټ اونورې مخ لوڅې ناستې وې٠
ماچې شاته وکتل، دلومړي ځل لپاره مې سترګې په داسې سترګو برابرې شوې، چې یو تاثیر پکې و،
دویم ځل لپاره مې بیا زړه وغوښت چې اثاهو سترګې وګورم، چې شاته مې وکتل انجلۍ ماته متوجې وه او ډېر ځیر ځیر یې کتل٠ زما او ددې لیدل په ټولګي کی روان و، دټولګي هلکان به ماته متوجه وو، خو ما ډېرا بې حیا یې نه کوله او کله کله به مې کتل، زړه مې هره شېبه ویل چې دې انجلۍ ته وګورم اوسترګې مې هم دا غوښتل ٠
زړه مې دخوشالۍ احساس کاوه او یونه یو ډول مې دې ته کتل هره ورځ چې ما کتل دابه راته متوجې وه ٠ددې نه دمخه ما انجونې په بیلا بیلو ځایونو کی لیدلې وې،
خوددې سترګو پرما اغیزناکه تاثیر واکړ٠ زه په دې فکر کې شوم چې والې مې زړه غواړي ترڅو دې انجلۍ ته وووګورم؟ ولې مې زړه بې قراره دی؟

ketabton.com - The Digital Library



دا به په اصل کې دمینې لومړۍ مرحله وه
چې دپیلیدو په درشل کې وه ۰
ددې نه دمخه ما دکومې بلې انجلۍ سره مینه نه وه کړې اونه مې چندانې مینه پیژندله،
ربنتیا هم دمینې پیژندل اسان کار نه دی، خوکومې انجلۍچې ماته ځیرځیر کتل،دمینې کولو مهارت یې ترما زیاتوه'ددې لیدلواو کتلوپر ما اغیزوکړ، دادپاک زړه مینه وه،
دزړه مینه په ټول عمرکې یوځلاو لومړی ځل کیږي، لومړنۍ مینه دهر انسان ډېره پاکه او سپیڅلې وي ددې نه مخکې مادهیچاسره مینه نه وه کړې ۰
نو ځکه زه یو ډول احساساتي اوله سره تیرو، سره له دې چې دادمینې پیل و ۰
ډیر داسې شیان په نړۍ کې شته چې موږ او تاسې ورته یو معیار نشو ټاکلی اویو جامع او مانع تعریف ورته نشو ټاکلی چې یودهغو ښکلا ده ۰
ددې انجلۍ ښکلا په مادومره تاثیر وکړ، چې دنړۍ ټول ښکلې شیان راته ډېر بدرنګه ښکاره کیدل،
دژوند په هره شېبه کې زه ددې په فکر اوذکر کې وم، زما دډېرې مینې یو لامل داو، چې زه له کوچینوالي له مینې نه بې برخې پاتې شوی وم ۰
ماسره مور، پلار او نور ۰۰۰ مینه نه وه کړې، نو ځکه دغې مینې پیداکیدل پرما ډېر تاثیر واکړ ۰
دټولګي نماینده وروستۍ ساعت کې خاضري واخیسته، زه حاضري اخیستلو ته ډېر لیواله وم، وا غوښته چې انجلۍ دنوم سره اشنا شم اوفکر مې کاوه چې انجلۍ نوم به سه وي؟

ketabton.com - The Digital Library



زه حاضري اخیستلو ته ډېر لیواله وم،

ما غوښته چې انجلۍ دنوم سره اشنا شم اوفکر مې کاوه چې انجلۍ نوم به سه وي؟

کله چې مې په غوږو دلیلا اواز واورېد،

مخ مې شاته واړوه، ګورم چې په اناري شنډو یې (صیب) وکړ،

دابل څوک نه وه، هماغه لیلا وه، دوو ساعتونو نه یوبل ته ګورو۰

مادډېرومینانو کېسې اوریدلې اولوستلې وې، خو ماددې کیسولوستلو نه عبرت وانه خیست۰

چې دمجنون په شان لیونۍ مینه واکړم دزړه غوښتنه مې دا وه چې لیلاراسره دلیلاپه څیر مینه واکړي۰

خپل اوددې نوم چې به مې په زړه شو،

نولیلا مجنون قصه به مې ذهن ته راغله اودځان سره به مې تصمیم ونیوه،

چې لیلا خپله نه کړم ژوند امکان نلري. دامې له ځان سره وویل،

چې مجنون خو ډېرې سختې تیرې کړې، نوځکه یې نوم په ټوله نړۍ کې خپور او مشهور شو.

زه دهغه دنوم بې غزتې نه کوم اودهغه نوم به راژوندی کوم.

ketabton.com - The Digital Library



ددې دسترګوتاثیر زما په زړه کې ډیره مینه پیدا کړه. زمامینه له دې ورځ تربلې زیاتیدله،

هره لحظه ماددې په فکر اوتصور کې وخت تیراوه، په زړه کې مې له خدایه ددې مینې دبریا غوښتنه کوله.

دلیدلواو کتلو وروسته خبره خبرو کولوته ورسیده، او کله کله به مو یوبل سره خبرې کولې، په خبرو کولوکې زمامیلان ډېرو.

دلومړي ځل کتلو نه وروسته بیادخبرو کولوپورې زما وخت په ډېرې خوشالۍ تېریده دژوندهیله او ارزو راته پیداشوه.

کله کله به یو دبل نه خفه کیدو اودیوبل سره به مو خبرې نه کولې خودغه خفګان په خقیقت کې یوپربل ناز او نزاکت وو.

دخفګان دغه لړۍ به بغضې وخت ډېرو ورځوته ورسېده، اوپه دغه ورځو کې به زه ډېر خپه وم.

لیلابه په ډېرو خبرو زماسره خبرې کول پریښودل،

اوماسره یې قصدکاوه.

خوزه هم په قصدکولو کې له هغې کم نه وم. سره له دې چې یودبل نه به خپه وو، خو چې دا به کله ټولګي ته رانغله نوماته به پوهنتون خوند نه راکاوه او بیرته به کورته تلم.

زه پوهنتون ته ددرس لپاره تلم خوما به درس ددې په ښکلوسترګوکې لوسته او هغه یوازې دمینې درس و.

ketabton.com - The Digital Library



زه پوهنتون ته ددرس لپاره تلم خوما به درس ددې په ښکلوسترګوکې لوسته او هغه یوازې دمینې درس و.

زما مینه دلیلاسره ورځ په ورځ زیاتیده، خودلیلا له زړه نه خدای خبرو.

مابه دا فکر کاوه څومره چې لیلازما خوښه ده په همدومره اندازه به زه هم دلیلا خوښ یم.

دمینې دپیل نه مخکې باید هرڅوان دهغه په انجام فکر وکړي، مینه کول اسانه دی خودهغه لاس ته راوړل ډېر ګران کار دی.

ماډېرې دمینې کیسې لوستې وې اودهغو کیسو په پایلې هم خبر وم، خو بیا هم زما زړه پرما غالب شو او زه یې دې ازموینه کې واچولم. مادخدای نه ددې ازموینې بریاغوښته، مادمینې په انجام فکرنه وکړي خو تاسې لوستونکي باید زما ددې داستان په اوریدو عبرت واخلئ اوپه دې برخه کې په ډېر اختیاط قدم وخلی.

موږ په ټولګي کې نورې انجونې هم وې، چې مخونه لوڅ و، ډېرو ځوانان هغو دلیدو لیواله وو.

که چیرې دلیلا مخ پټ وی، ډېر امکان یې و، چې دغه دمینې لړۍ به پیداشوې نه وه.

دپوهنتون ټولې محصلینې باید خپل خجاب ته متوجه وي او کورنۍ مکلفه ده ترڅو دخپلو لوڼو په اړه بشپړ معلومات ولري.

دورځو په تیریدو دلیلا په لباس، ناسته او خصوصیاتو کې توپیر راغی داسې معلومیده چې مینه یې له ماسره زیاتېده.

ketabton.com - The Digital Library



ډېره سينګار کړې اوجوړه شوې ټولګي ته راتله اوتل يې دسترګو لاندې ماته کتل او زما دزړه مينه لکه دشديد اور په زياتيدوو.

مانه غوښته چې دادې په ټولګي کې له نورو هلکانو سره خبرې واکړي، خوځينو به زما له قصده دې سره خبرې کولې او پرمابه يې بد تاثير کاوه، په ټولګي کې ټول زموږ له رازه خبر وو،

ټولو ته مې وويل: هيڅوک به ليلا سره خبرې نه کوي اونه به ورباندې سلام اچوي.

ټول ټولګيوال مې دې خبرې ته ګوته په عاښ خيران پاتې شول خوځينو بيازما له قصده له دې سره خبرې کولې. کله چې به زه ټولګي کې خاضروم،

نو هيڅا به دليلا سره دې خبرو کولو جرات نلرو، خوزما دنه موجوديت کې به ځينو له ليلاسره خبرې کولې.

په خقيقت کې دغه مينه وه، چې دهلکانو خبرې دليلاسره مانه شو زغملای اوغوصه به راتله.

تردې وخته مادمينې ښکارندويې ورته ونه شو کولای، خوپه دې پوهيدم، چې زما ورسره ترحده مينه ده.

هره ورځ به ما فکر کاوه چې دکومې لارې ورته دخپلې مينې اظهار واکړم.

دمينې ډاګرکې مې جرآت دلاسه ورکړی و، اوپه دې ډاريدم هسې نه چې ليلا رانه خپه شي اودغه مينې تار مووشليږي

ketabton.com - The Digital Library



کله کله به راته داسې فکر پیداشو،
مې لیلا دې راته دمینې اظهار وکړي.
له دې وړاندې ما مینه نه وه کړې،
دمینې کولو سره بلد نه وم، داجرآت مې نه درلود چې زه دې
مینه واکړم، خودوخت په تېرېدو سره په ماکې دمینې کولو قوت
پیداشو.
اوما داسی فکر کاوه چې ټول ټولګي زما دکور غړي دي. زه له
دوی نه شرمیدم،
اونه یې په فکر کې وم، په ټولګي کې مویودبل سره خبرې کولې
اوتل به زما او دوې دخبرو میدان ګرم و.
مابه له ځان سره ویل،
راځه خپله مینه ورته ښکاره کړه اودخپل زړه خبره ورته وکړه،
اوکله کله به بیا په دې انتظار وم چې یوه ورځ به ددوې له خولې
دمینې غږ اورم،
یوه ورځ مې پرېکړه وکړه چې دموبایل له لارې لیلاته خپله مینه
ښکاره کړم.
لیلا ته مې وویل: دموبایل شمیره راکړه، لیلا وویل: زه موبایل
نلرم، شمیره خو وروستۍ خبره ده.

ketabton.com - The Digital Library



زه خبر نه وم چې لیلا موبایل نه لري، په دې خبرې خیران شوم.
ماغوښته چې دې ته موبایل واخلم، ترڅو ورته خپله مینه ښکاره کړم.
اوتر واده پورې ټولې خبرې ورسره په موبایل کې وکړم. ماله دې سره دمخامخ خبرو کولو توان نه درلود. یوه ورځ مې ښار کې یوښه موبایل واخیست،
پوهنتون ته چې راغلم، سترګې مې په دروازه کې په لیلا برابرې شوې،
خواته یې ورغلم اوسلام مې پرې واچوه،
هغه وعلیکم...وویل، ډېر خوشاله وم چې اوس به رانه موبایل اخلي اونن شپه به ټولې خبرې ښکاره کوم. موبایل مې له جیبه راویست او لیلا ته مې وړاندې کړ.
هغه چې موبایل ولید داخیستلو یې انکار واکړ، راته وویل: کاچیرې زما کورنۍ مور اوپلار زماسره موبایل وګورې نوماله پوهنتون نه باسي او په کور مې کینوي، داکار زما لپاره ډېر خطر لري.
زه دې موبایل په نه اخیستلو خپه شوم، خودلایلو په اوریدو خوشاله شوم، اوپه دې پوه شوم چې دلیلا کورنۍ یوه ښه کورنۍ ده. خوبل خوا ددې کړی سینګار مې چې ولیده نو خیران پاتې کیدم

ketabton.com - The Digital Library



دواړه یوځای ټولګي ته لاړو او پرخپلو ځوکیو کیناستو. یوبل ته موکتل، ربښتیا زه ډېر غمجن وم، او هغه هم خپه ښکاریده.

دخبرو دغه جریان پوره څلور میاشتې دوام وکړ، اوله دواړو نه یو هم په دې بریالي نشو ترڅو یوبل ته دمینې اظهار واکړو.

ازموینې پیل اوبالاخیره بشپړې شوې، درخصتۍ ورځې راورسیدې، رخصتۍ لپاره ډېر خپه وم ځکه دلیلا دیدن پای ته رسیده، دلیلا په څیره کې له ورایه خپګان ښکاریده.

پوهنتون رخصت شو، دپنخشنبې ورځ وه، دریو میاشتوپورې مور له یوله بل سره نه شو کتلی. دلیلا خواته لاړم، ځنګ پرځنګ ورسره ودریدم له سترګو مې اوښکې روانې وې. هغی ته مې نه شو کتلی، ژبه مې بنده بنده کیده، ډېرخالت مې خراب و. داهم خپه ښکاریده خو زما په اندازه خپه نه وه.

درې میاشتې رخصتي ده، زما اوستا لیدل، کتل او خبرې کول په دغه موده کې نه کیږي. هیڅ امکان نه لري چې یوه ورځ دې هم پرته ستا دلیدو تیره کړم. موبایل هم نه لرې چې یود بل سره مو خبرې کړی وای، اوربېدلې به دې وي، موبایل کې خبرې کول نیم دیدن دی.

زه هم پربیلتون خپه یم، خوځه وکړو ناچاره یو، پاتې شوه دموبایل خبره په کور کې مې مور اوپلار موبایل ته اجازه نه راکوي.

ketabton.com - The Digital Library



زه غواړم رخصتيو کې کابل ته لاړه شم هلته مې دکاکا کور دی، نو هلته کوشش کوم چې موبايل پيداکړم .

نوهلته کوښښ کوم چې موبايل پيداکړم،
نوبياکولای شو چې يوله بل سره خبرې وکړو.
ته خپه نه ښکارې، خوزه ډېر خپه يم دسترګو اوښکو ته مې وګوره يودبل پسې روانې دي.
هوزه خيرانه يم، چې په دومره لږ وخت کې ستاله ماسره ډېره مينه پيدا شوه، ماداسې هلک تراوسه نه دی ليدلی.
مينه بايد همداسې وي،
زه په خپل ځان کې دهغه مجنون اغېزې وينم چې ډېر پخواتيرشوی دی اوته راته هماغه ليلاښکارې،
زمااوستا يوځای کيدل اوديوبل سره مينه پيداکيدل کوم تصادفي کارنه دی، دادخدای ج خوښه وه،
چې زه اوته دې سره يو ځای شو.
ليلا ومجنون ته خدای هغه مقام ورکړ، زه اوته به هم دالله خوښ وو چې له يوبل سره يې اشنا کړو.

ketabton.com - The Digital Library



لیلا په ژاړه شوه او ډېر يې وژاړل.

لس دقیقې راسره ولاړه وه، زما اوښکې نه ودرېدې اوپه خبرو کې مې ژړلې.

لیلاراسره خدای پاماني وکړه او روانه شوه، زه ځای پرځای ولاړ وم، ښه ډېر مې وژاړل، ګریوان مې په اوښکو لوندشو، زه هم کورته لاړم اویوازې په کوټه کې کیناستم اودرحمان بابا دیوان مې راواخیست اوددیوان په لوستلومې خپل غمونه هیرول.

بابا رښتینې مینه دالله پاک سره وه، زما مینه مجازې وه خودحقیقت په ستنو ولاړه وه،

زما په زړه کې هغه پاکه مینه وه، لکه دبابا چې دالله پاک سره وه، زه په مینه کې په چل اوغلطۍ نه پوهیدم.

زما زړه پاک اوسپیځلي و،

زما په زړه کې پاکه مینه وه،

اوله دې نه مې هم پاکه مینه غوښته.

یوه ورځ مې راته یوټولګیوال زنګ راته ووهه وېې ویل:-

لیلا دکابل نه راته زنګ وهلی و،

ښایې تاته هم نن یا سبا زنګ ووهي.

ketabton.com - The Digital Library



زه ډېر خوشاله شوم، په دې فکر کې وم چې کله به لیلا ماته زنګ وهي،

دقیقې، ساعتونه، اوورځې مې شمیرلې چې زنګ به راغی مابه فکر کاوه . موبایل به مې تل له ځانه سره ګرځوه اودامې ویلې چې ددې زنګ به راځي اوله ماسره به خبرې کوي.

یوه شپه لس بجې راته لنډ لیکلی پیغام راغی، لیکلي یې وو،

((اسلام علیکم زه لیلایم))

دپیغام له رارسېدو سره مې دانتظار شېبې ختمې شوې، ډېر خوشاله شوم اوپه ډېره عجله نه مې جواب ورکړ، وعلیکم سلام.

لیلا پیغام کې ولیکل چې پام کوه چې زنګ ونه وهې یواوبل ته پیغامونه لېږو اوخپل اخوال پکې لیکو، دشپې له یوولسو بجونه زمااو لیلا دپیغامونو لیږل پیل شول،

دسهار تراذانه مادې اودې ماته پیغامونه لېږل، دلیلا وروستۍ پیغام داسې و ( زه نوره ویده کېږم دسهار اذان یې وکړ )

زه هم ویده کېږم دخدای پامان.

اوشپه ډېره لنډه،دا مینه وه چې کله یې ورځې لنډولې او اوس شپې لنډوي.

ketabton.com - The Digital Library


هره شپه ترسهاره پورې زما اوددې ترمنځ په پیغامونو اړیکه ټینګه وه اویودبل نه موهرډول پوښتنې وکړې.
درې میاشتې مادې اودې ماته پیغامونه لېږل اوان خبره تر واده ورسېده،
دې موافقې ته ورسېده چې یودبل سره به په هرصورت کې واده کوو.
مور اوپلار مې له مینې کولونه خبر نه وو اودهغه مور اوپلار ددې پټې مینې نه خبرو،
مینه کول اسانه کاردی، ځانته بېل ژوندغواړي، ډېرې قربانۍ غواړي، له سرنه تېرېدل غواړي، اوځینې وخت کورنۍ پرېښودل غواړي.
که چیرې دیوهلک انجلۍ خوښه شي همدې ته مینه وایی، باید ورته ارزښت ورکړل شي، اودهلک اوانجلۍ په خوښه واده وشي،
ځینې وخت دډېرومینانو ژوندتر مرګه پورې رسي چې ددې سبب دهلک یادانجلۍ کورنۍ وي.

ketabton.com - The Digital Library



ماهم په دې ازموینه کې ډېر تکلیفونه ولیدل، خومعلومه نه ده،

چې دمینې په ازموینه کې به بریالی اوکه ناکام شم.

دزړه نه مینه کول اسانه کار نه دی،

دزړه اوسر نه تېریدل غواړي، زه په مینه کې له هرسه نه

تیروم خودهغې له زړه نه یوخدای خبروه.

ددې یوپیغام ماڅوڅو ځلې لوستی دی،

ماددې پیغام لوسته، فکرمې کاوه چې ماته مخامخ ناسته ده

اوراسره خبرې کوي. دهغې اغیزناکه اوښایسته څېره به مې

خپل خیال ته راوسته ،

اوده به مې له ځانه سره ویل چې دغه الفاظ یې په ښکلو

شونډو راته په خوله راوړي اوپه قلمي ګوتو یې په موبایل کې

لیکلي.

درې میاشتې رخصتي په ختمیدو شوه،

دپوهنتون دشروع کیدو راورسېد، زما اوددې خبرې په

ټیلفون کې وروستۍ خدته رسیدلې وې،

موبایل راباندې ډېرګران و، اوډېره مننه مې ورنه کوله. زما

اوددې ټولې خبرې یې یواوبل ته وړلې.

ketabton.com - The Digital Library



ټولې هغه خبرې چې ما هیڅکله هم مخامخ دې ته نه شو ویلای اونه مې داجرآت کولی شو خو دموبایل پرمټ دا ټولې خبرې خل شوې.
زه په دې نه پوهیدم چې موبایل رښتیا هم زموږ ستونزې خل اوکه یې ستونزې زیاتې کړې.

لیلاوویل:
دنن نه وروسته دپیغامونو سلسله ختمه شوه، موبایل په کابل کې پرېږدم، زه کورته ځم. یوبل به په پوهنتون کې وګورو.
شپه تېره شوه دیوبل سره مواړیکې دځو ورځو لپاره پرې شوې، زه دشپې له خوا په پیغامونولیږلو اموخته شوی وم، دشپې خوب نه راتلو پوره څلورشپې موله یوبل سره اړیکې نه لرلې. دغه څلورشپې لکه دڅلور میاشتې تېرې شوې.
دشپې له خوا مې ترسهاره پورې دخپګان شېبې تېرولې او کله کله مې هغه پخواني پیغامونه لوستل اودخوشالۍ احساس به مې کاوه.

ketabton.com - The Digital Library



ربښتیا خبره ده چې دانسان پېژندل
اوبیادښځې پېژندل څه اسان کار نه دی ازاربایجاني ژبې
متلونه دي
<< دیوې ښې ښځې اودیوې ښې هندوانې خوښول سخت
کار دی>>
بل ځای وایې چې<< ښځه که درته لس بچي راوړې بیاهم
دهغې پرخبرو باور نه دی پکار>> خومادلیلاپرټولو خبرو باور
وکړ اوټولې وعدې مې ورته په یاد دي.

هره ورځ دټولو ټولګیوالو نه مخکې ټولګي ته تلم اوپه دې
فکر کې به وم چې کله به مې سترګې لیلا وینې.
زما رنګ خراب شوې و،
دمینې زور اودرې میاشتې شوګیرو خراب کړی وم.
ټولوملګرو رانه پوښتنه کوله، ولې دې رنګ خراب شوی دی؟
ناروغ خوبه نه یې؟
نه، ناروغ نه یم، روغ اوجوړ یم.

ketabton.com - The Digital Library


په خقیقت کې زما دزړه ناروغي وه اوددې ناروغۍ درملنه اسان کار نه و، درې میاشتې مې شپې په ویخه تېرې کړې وې، اوخپلې مینې هم زوزولم.

دملګرو نه مې یواحمدنومېده، کله کله یې راته نااشنا خبرې کولې،

زه دهغه دخبرو په هدف نه پوهیدم. هغه دپند اونصیحت په ډول راته ځینې خبرې کولې،

دهغې خبرې پرماښې لږېدې اوورته به متوجې ناست وم.

یوه ورځ وخته ټولګي ته لاړم، ددروازې دخلاصولو سره مې سترګې په لیلا برابرې شوې' قدمونومې کار پرېښود،

سترګې مې له ډېرې خوشالۍ نه ډنډې شوې، ژبه مې بنده بنده کېده، دخبروکولو توان مې په ځان کې نه لېده' زړه مې غوښتل چې ورته وګورم وګورم او وګورم.

دخوشالۍ هغه شېبه مې اوس هم په یاده ده، هغه هم خوشاله ښکارېده اویودبل سره مر خبرې کول پیل کړه.

ددریو میاشتو یادونه مویوبل ته یاد کړه،

رښتیامینه لیوانتوب وي. زه اوهو کړې ته رسېدلي وو، خوکورنۍ مونه وې خبرې.

ketabton.com - The Digital Library



ټول ټولګیوال زموږ له مینې خبرو، خوږېږمزاهمت یې نه کاوه، زموږ لپاره یې موقع برابروله، چې یوله بل سره خبرې وکړو.

لیلا په ټولګي کې نورو انجونو ته ویلي وو، چې له ماسره واده کوي.

ځینې استاذان مې هم له راز خبر شول، په مینه کولو کې سړی ړندیږي هیڅ ورته نه ښکاري.

زه هم دهغه ړوند په څېر وم چې لارا یې نه لیدله. زمااو ددې دمینې تارډېرکلک شو، ورځې اوشپې موشمېرلې چې کله به مووادہ کېږي.

په ټولګیوالو یوشمېرزما خاص هم نظري ملګري وو، یودهغو نه احمد نومېده.

دې به ماته هروخت په غیرمستقیم ډول نصیحت کاوه، زه ددې په اصلي موخه نه پوهیدم.

یوه ورځ پوهنتون ته راغلم، دټولګي په مخکې احمد څوړند ناست دی اوسترګې له ځمکې نه پورته کوي.

ketabton.com - The Digital Library



خواته يې نږدې شوم، اواز مې پرې وکړ،
احمد! ولې خپه ناست يې؟ څه خبره ده؟ هغه له سرله
زنګونو راپورته کړ اوويې ويل:
يوه ورځ به ستا هم دغه خال وي، لکه څنګه چې زه نن
داسې خپه يم، ژوند به دې نه خوښيږي مرګ به درته تر
ژوند غوره ښکاري •

يوه ورځ پوهنتون ته راغلم،
دټولګي په مخکې احمد ځوړند ناست دی اوسترګې له
ځمکې نه پورته کوي.
خواته يې نږدې شوم، اواز مې پرې وکړ، احمد! ولې خپه
ناست يې؟ څه خبره ده؟
هغه له سرله زنګونو راپورته کړاوويې ويل: يوه ورځ به ستا هم
دغه خال وي،
لکه څنګه چې زه نن داسې خپه يم، ژوند به دې نه
خوښيږي مرګ به درته تر ژوند غوره ښکاري اودمينې
اوښکلا څخه به کرکه کوې، له ښځې نوم به دې زړه تور شي.
ماتراوسه داحمد داسې خال نه وه ليدلای .

ketabton.com - The Digital Library



ډېر خپه ښکارېده، سترګې يې له اوښکو ډکې وې اوراته يې په جګ اواز وژاړل.

ويې ويل: ښځه بې وفا شی دی، هيچاسره په پاک زړه مينه نه کوي.

که چېرې له تانه ورته بل ښه ځوان پيداشي، تاپه ميدان پرېږدي، داتجربه شوې خبره ده، زه په دې اړه بشپړه تخربه لرم

زما عمر له تا څوکاله زيات دی.

داته چې نن په کوم خالت اخته يې، زه څو کاله دمخه ستا په شان دمينې په جنجال اخته وم، اودامې خال دی.

احمد ماته يوداستان ويلی و، کاچيرې مادهغه په خبرو عمل کړی وی اوس به زما داخال نه و،

او هغه راته دغه داستان ويلي و، وايې اورئ.

احمد اوسيلۍ نومې انجلۍ ترمنځ ډېره کلکه مينه وه، يوپربل له سرنه تېروو، هيله يې لرله چې له يوبل سره واده وکړي.

ketabton.com - The Digital Library



احمد په خپله مینه کې رښتینی و، مخکې له دې یې مینه نه وه کړې، خوسیلۍ دمینې کولو ډیپلومونه لرل، ددې نه مخکې یې دډېروهلکانو سره دمینې تارونه غزولي و.

دسیلۍ پلاردخکومت مامور و، څو ورونه یې لرل، هغوې هم په ځینو ادارو کې کار کاوه کورنۍ یې له خکومته معاشونه اخیستل،

او کورنۍ ژوند یې ښه وو، اقتصادي وضعه یې لوړه وه، پرته یې له معاشه نورې خرامې یې هم پیدا کولې. زموږ ستاسې په ټولنه کې رشوت اخیستل یوه عادې خبره ده،

دشیرینۍ په نامه دغه رشوت په ټولو ادارو کې دغه فساد روان دی.

سیلۍ په ټوله کورنۍ ډېره ګرانه وه، دمور اوپلار یواځینۍ لوروه، دا ډېره ښکلې وه،

چاچې به یوځل ولیده نوزړه به یې ورباندې بایلود، ددې کورنۍ غوښتل چې داډېره ازاده اوسینګارکړې وګرځي اوپه دې یې فخار کاوه.

احمداوسیلۍ یودبل سره مینه پیداکیږي، داحمدمینه پرې غالبه وي خوسیلۍ ورسره په چل کې روانه وي.

ketabton.com - The Digital Library



هماغه وه،

چې احمد پرځای پرېږدي اوبل چاسره مینې خبري شروع کوي. اخیرخبره واده ته رسیږي. احمدپرځای پرېږدي٠

احمدپرځای پرېږدي٠٠٠٠٠

کله چې زه ستا اودهغه مینه ګورم دخوشالۍ اوخپګان احساس کوم. که چېرې خپل هدف ته ورسېدې ،

نوښه اوکه چېرې مینه موماته شوه اوخپل هدف ته ونه رسېدې

ټول عمر به دې زړه له تاسره نه وي.

په مینه کې ډېرځله انجونې بې وفایې کوي،

زه دخپلو تجربو درته وایم دمینې کولو لاس واخله.

ما ووته وویل:

ددنیاټولې انجونې یوډول نه دي، ځینې په کې بې وفا اوځینې پکې وفادارې هم شته .

ketabton.com - The Digital Library



زما مینه دټولوسرده، اودبې وفايې هیله ورته نه
لرم، امکان نه لري چې هغه دې له ماسره بې وفايې
وکړي.
مجنونه! ته خو به په خپلې مینې نازیږې ،
خوپه راتلوونکې کې به درته مغلومه شي، زما دخبرو
ارمان به وکړې.

لیلا په ټولګي یوه خاصه ملګرې وه،هروخت به له
دې سره ګرځېده
اوکله کله به یې زمااو دلیلادیوځای کېدو موقع
برابروله،
دغه انجلۍ برېښنا نومېده،برېښنادیوې عریبې
کورنۍ ځخه وه،والدین یې ښوونکي وو،
ورونه یې نه درلودل،پنځه خویندې وې٠لیلاته یې
هر وخت ویل:-ته زما شپږمه خور یې،
ډېر احترام یې ورته کاوه او ددې دتېراو اوسني
ژوندټول رازونه ورسره وه٠

ketabton.com - The Digital Library



دوی ددوو خويندو په ډول پوهنتون کې
ګرځېدې،برېښناله لباسه ښکاريده چې ډېره عريبه
ده ،خو داخلاقوبيلګه وه۰دهلکانو او انجونوسره يې
ملګرتياوه،ټولو هلکانو ته يې ويل:
زه انجلۍ يم خو ټول خصوصيات مې دهلکانودي۰
ما ورونه نه درلودل، په ماشومتوب کې مور او پلار راته
دهلکانو جامې اغوستې او ټول تيپ او ټاپ يې زما
دهلکانو په ډول جوړکړی و
۰ما به دهلکانو سره لوبې کولې اوهلکان په دې نه
پوهېدل چې زه انجلۍيم.
که چېرې پوه شوي وي، هيڅ خبره نه وه، په هغه
وخت کې ټول خلک صادق وو. خپل دچال نه و زده
دهلکانوبدسترګې زده نوې ټکنالوجۍ له پرمختګ سره
زموږ دټولنې ځينې << هلکان اوانجونې>> بې لارې
شول.
په زياتوکورونو کې ټلويژون اوکيبل شتون لري، په
ټلويژونونو کې هغه ډرامې اوسريالونه خپرېږي چې زموږ
ټولنه اوپه تيره بياځان نسل بې لارې کوي.

ketabton.com - The Digital Library



همدا ډول په کیبلونو کې ځینې وخت داسې انګلیسي
فیلمونه راشي،
چې لیدل یې سړی په کندو برابروي، هیچاپه دې فکر ونه
کړ، بلکې غواړي چې دغه خالت ته نور هم پرمختګ ورکړي.
ځکه دوی پرمختګ یواځې په ازادۍ کې لټوي.

بریښناپرخپله لاره لاړه اوزه پرخپله لاره لاړم، کله چې ټولګي
ته ورسېدم سم مې په لیلاسترګې ولګېدې، سلام مې پرې
وچوو، اوپرخپله څوکۍ کیناستم ·
ټوله ورځ مې دبریښنا اواحمدخبرې په زړه ګرځېدې،
درسې ساعتونه بشپړ شول ·
زمافکر دوی << احمد او بریښنا >> دخبرو په اړه وو، کورته
ولاړم، ټوله شپه خوب نه راته، کله چې ویده شوم ګډوډ
خوبونه مې ولیدل ·
سهار چې پوهنتون ته لاړم، ټولګي کې پرخپل ځای کیناستم،
خوسنګ کې مې لیلا ناسته وه، کله مې چې دې پاکې څېرې
ته کتل، فکر مې کوو چې بې وفايې نه شي راسره کولای،
ځکه چې ددې په سترګو کې ماته مینه ښکاري ·

ketabton.com - The Digital Library



خودرسي ساعتونه تيرشول اوتفريخ شو،

هغې ته مې وويل: زه نورصبرنشم کولای، کله زما کورنۍ ستاسو کورته درشي؟

هغې وويل: صبر مجنونه! زه خوستايم دبل چاخونشم کيدای، پرېږده چې کورنۍ مې ستاکورنۍ په اړه دقت معلومات ترلاسه کړي ۰

نن اوسبا-- نن اوسبا په تمه راباندې زيات وخت تيرکړ، مابه شيبې شميرلې چې کله به له دې خولې غږاورم ۰

يوه ورځ چې زما لپاره ډېره بدبخته وه، شپه يې هم پرما ډېره درنه وه' دشپې مې ډېرګډوډ خوبونه ليدل، خوبياهم مادخوشالۍ هيله مندي لرله، اوکله کله مې له ځان لپاره خيالي نړۍ جوړوله اوله هغه مې خوند اخيست ۰

زړه ته مې الهې غږ راته اودا به يې راته ويل: خپګان درباندې راځي ۰

پوهنتون ته لاړم، ګورم چې ليلاديوه هلک سره ولاړه ده، دغم ځپې راباندې راغلې سرراباندې وګرځيد.

ketabton.com - The Digital Library



له یوې شپې لپاره مې داسې فکروکړ چې اسمان ګوز شوی،
دکوم خپګان احساس چې ماه الهامي توګه کاوه هغه مې ولید،
ټولګي ته لاړم ۰
هلکان او انجونې ټول راغلي، اواستاد هم درس ته ولاړدی، زه ټولګي ته ننوتم پوهه نشوم له استاده مې اجازه ونه خیسته اوپه خپله څوکۍ کیناستم ۰
استاد درس بندکړ او زه یې وراټلم، راته یې وویل:-
مجنونه! تانه خو ربښتیا لیوانۍ مجنون جوړ شوی،
ټولګي ته راځې اواجازه هم نه اخلې؟
ماوویه: استاده زه لیوانۍ مجنون ته نه شم رسیدای،
ښښنه غواړم پام مې نه وو استاد کینولم ۰
درسي ساعتونه بشپړشول، اومادلیلا اودهغه هلک په اړه سوچ کاوه، دساعت په اخیرکې رابندې لیلاغبږوکړ ۰

ketabton.com - The Digital Library



مجنونه ولې خپه یې، په سترګوکې دې خپګان ښکاري، په کورکې به دې چاسره جنګ نه وي کړي؟

له ماخوووو خپه نه یې؟

___خپه نه یم، که چیرته تازماپه څېره کې خپګان ګورې، دا زما قسمت دی.

اونه غواړم چې خپل قسمت ته ژاړه اوفریاد وکړم، زه پیدا شوی په ازل کې بدقسمته یم.

مجنونه! په تاڅه وشوله؟

ته څه وایې؟

خدای به درنه خپه شي،

خدای ج تاته هرسه درکړي.

ټولې خبرې یولورته اوزما مینه بل لورته،

نن یاسبا به واده وکړو، کورنۍ به مو وي، خوشاله ژوند به ولرو.

داچې زه ډېرخپه وم، مادې ته ډېرې خبرې وکړې، اوهغه راته ولاړه وه.

په اخیر کې مې ورته وویل:-

زه خوشالۍ نه کرکه لرم اوخوک چې ماته دخوشالۍ په ایس وایې، زه پوهیږم چې خوشالۍ ماته نه راځي.

ketabton.com - The Digital Library



خوشالي دې هغه چاته لاړې چې خوشاله کورنۍ کې لوی وی، موږ له کوچینتوبه په غریبه کورنۍ کې پیدایو.

زما ژوندملګری خپګان دی، په کرکواونفرتونو کې رالوی شوم زماملګری خپګان دې نه خوشالي.

لیلا وویل: په هوش راشه دومره فکر هم نکې چې لیلا به خپه شي؟

زه ډېرخپه وم، په هوش کې نه وم ، په اخیرکې مې لیلاته وویل، چې هغا سوک و چې تاورسره ولاړه وې؟

زه نشم زغملای چې تا دې بل سره خبرې وکړې.

هغې وویل: هغه زمادکورس صنفي و دنوټ کتابچه مې ورنه اخیسته، ماوودده ترمنځ هیس اړیکه نشته په ماباور واکه.

زماغمجنې لږه کمه شوه، ددې په خبرومې باوروکړ.

مورپلار مې وې، چې مه خپه کیږه چې کومه انجلۍ ستا خوښه وي هغه درته غواړو.

ketabton.com - The Digital Library



هره ورځ راباندې کال تېرېده،

دهغې ورځې په انتظار وم چې کلا به ليلا راته واى چې

کورنۍ مو ده روشي •

يوا ورځ پوهنتو ته لاړم ، ليلاراته وويل:- مجنونه! ستا انتظار

شپبې ختمې شوې' سبادې کورنۍ زموږکره روشي •

ډېرخوشاله شوم، کورنۍ ته مې زيرى ورکړ،

کورنۍ مې خوشاله شوه ، ژر دليلا غوښتوته لاړ •

ساعتونه شميرل، اوپه دې فکر کې وم چې ددوى لخوا به

زما کورنۍ ته څه ويل کيږي •

کله چې ماکورنۍ هغه ووغوښته، هعوى درې مياشتې وخت

ورکړ، اووغده يې ورکړه چې درې مياشتې وروسته به تاسو

ته دسمال درکوو •

کورنۍ مې بيرته راغله اوزيرى يې راکړ •

تاسوپه خداى باور ورکړئ چې انتظار شپبې دومره اوږدې

اوداورنه سختې وې •

خوماتيرولې، اوهيله مې لرله چې يوه ورځ به دليلا سره

يوځاى نوى ژوند جوړ کړم •

ketabton.com - The Digital Library



خولیلا پوهنتون ته ډېره سنګارکې راتله اوټولو
ټولګیوالو ورته دخور په سترګه کتل.
دوی پردې پوهېدل چې دهغې دغوښتلو له پاره
زما کورنۍ تللي وه.
دوی چې زما خالت لېده، ماته به یې دوعا کوله
اوداسې یې وویل: خدایه! لیلا په هغه اودې دنیا
کې دمجنون په نصیب کړې،
ورځې تېرېدې، دوه میاشتې پنځه ورځې تېرې
شوې.

په شپږمه شپه وې خوب ولیده:
ماذدیګری دی چې دسړک پرعاړه خپه روان یم،
په تلوتلوکې دلیلا کور راورسېد، دکورمخې ته یې
ډېرې موټرې ولاړې دي،
ځوانان اوسپین ږېري

ketabton.com - The Digital Library



ډلې ډلې يوبل خواته دکورمخې ته دي
ماته تشويق پيداشو اوپه دې فکر کې شوم چې ختمې
دوی په کورکې کوم کس وفات شوی وي٠
کور دروازې ته يې ورغلم، اوپه ولاړه ډله کې مې پريوه
ځوان غږ وکړ چې ځوانه سه خبره ده، چې تاسې دکور
مخې ته راغوند شوې ياست؟
ځوان وويل خيراوخيريت دی دخپګان کومه خبره
نشته بلکې دخوشالۍ خبره ده٠

دکورخاوند مې کاکادی او دلورکوژده يې ده٠
پرمايوډول لړزه راغله اوپه دې پوهېدم چې ليلا بله
خور نلري،
خودتاکيدپه ډول مې له ځوان نه پوښتنه واکړه دهغې
دې تره لور کوژده دې ده چې پوهنتون کې محصله
ده؟
ځوان خيران شو، ويې ويل هو!
کورته راغلم.

ketabton.com - The Digital Library



او په چیغو چیغو مې وژړل
اوپه کوټه کې مې لوټ په لوټ اوختم او سترګې
مې دابنکو سیندونه روان جوړکړل ٠٠٠ له ډېره
ژاړه مې غوږونه بند شول ٠
چې سترګې مې خلاصې کړې ګورو، چې خوب مې
لیدلای دی ٠
سترګې مې سرې وې اوخوشاله شوم، ساړه رابانديې
راغله

د ناول پای

په درنښت روح الله روحانی

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*